مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۱۱/۱۰

# بی قــدري!

یادونه:

د کوم دوست په پانه کی می یو دری بیت ولید خوښ می شو، پښتو می کړ، یو می بل ورسره جوړ کړ، څلوریځه شوه، دوستانو خوښه کړه. یوه دوست راته د همدی طرز لاندی د غزل په بڼه د شعر د تکمیل سپارښتنه وکړه. دا دی څه کډی وډی می سره را یوځای کړی، ویی ګوری. هیله من یم چی خوښ مو شی.

په درنه مینه. کلیوال

«لس او شل بچي یو پـلار ســره آرام وی
خــو یـو پـلار شـلـو بچـو کی آرام نه شو»

زوی د ښځی په نشه کی هومره مست شو
چی د مـور د ســاه ختـو ته یی پام نه شو

نیا نیکه له لمسی هیرشوو چی را لوی شو
هیڅ خبر یی د ژونـدون په ما ښام نه شـو

د مـشـرانـو درنـاوي تـر شـتـمـنـی وی
بی شتـو مشـر وړ د کوم احتـرام نه شـو

معزز وی چی د واک په ګدی ناست وی
بی قـدرته پـاچـا لـوړ تـر غـلام نه شـو

کوم شاګرد چی د استاد حرمت ونکړو
مُقـتـدی شو د ټـول عُمـر امام نه شـو

خبردار چی کار په کار سره خلاصیږی
مونږ و نکړو چی تر اوسه تمام نه شـو

ډک جامونه هرمحفل کی ورته ست شول
خو لایق می کلیوال د هیـڅ جام نه شـو

نومبر/۲۰۱۸/۹ تورنتو ـ کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ